ژب پوهنه !

# د پښتو لغوي تطور

فقه اللغه چي په اروپائي اصطلاح ئې فيلالوژي او په پښتو ئې "ژب پوهنه" بولو، يو خوږ علم دی، او ډېر دقيق مباحث لري او د ژبو ځيني کُلي قواعد او شامل او مشترک اساسونه بيانوي، زه غواړم، چي کله کله ددې علم ځيني مباحث د کابل مجلې لپاره د پښتو ژبي له تطبيقاتو سره وليکم. چي هم د مجلې علمي رنگ خوندي سي، او هم ځيني ذوقمندان مخصوصاً د ادبياتو د فاکولتې شاگردان دغه ولولي، په دې مقاله کښي به زه د ژبي پر تطور لږ څه بحث وکړم :

تطور اوښتلو ته وايي، چي يو شی له يوه شکله په بل ډول واوړي، په فقه اللغه کښي تطور هغه تدريجي تحول او اوښتنه ده، چي په ډېرو زمانو کښي د کلماتو ظاهري شکل او معني ته ورپېښيږي.

لکه ژوندي موجودات چي د ژوندانه په مختلفو دورو کښي نوی اشکال مومي، او د تکامل په سير کښي خپل شکل ته تغيير ورکوي،

لغات او کلمات هم دغسي اوړي، او تر مخصوصو قواعدو او شرايطو لاندي تبديليږي، او لکه نور موجودات تل د تدريجي تحول او انتخاب طبيعي او بقاى اصلح تر اساسو لاندي تغيير مومي، سياسي حوادث او انقلابات او طبيعي عوامل کلماتو ته نوي اشکال او نوى معاني ورکوي، او د انسانانو د اوضاعو سره سم د محيط شرايط پر ژبو او کلماتو باندي حکمراني کوي.

ددې خبري د اثبات لپاره دا لاندي مثالونه ولولئ:

## (ا) بړيڅ:

د پښتنو يو معروفه قبيله ده، له قديمه دا کلمه پر دغه قوم اطلاق کېده، يو وخت په دې قوم کښي فتح خان بړيڅ پيدا سو. اوهند ته ولاړ، هلته دده سره شپېته بړيڅ ملګري وه، نو دا مشهوره سوه چي فتح خان او دده شپېته بړيڅي ولاړل، او په هند کښي ئې ځانونه قرباني کړل. د دوي د ملګرى داستان او د فتح خان او رابيا قصه مشهوره سوه، په دې علت د بړيڅ کلمه چي صرف د يوه قوم نوم وُ، هم متطوره سوه، او ورو ئې ملګري او همکار او مله معاني هم ومونډل، مګر دا کلمه په هغه ځاي کښي استعماليږي، چي يو څوک خپل مقابل او دده ډله غندي نو وايي: پلانى دده بړيڅي داسي او هسي کوي ...

دا د هغه تطور مثال وُ، چي اصلي کلمه پاته وي، مګر په معنا کښي پر مخصوص ځاى لږ څه تحول راغلى وى. ددغه ډول تطور مثال د (شاهد) کلمه ده، چي په عربي کښي د ليدونکي په معناو د شهود له ريښې څخه، مګر په پارسي کښي وروسته د معشوق او محبوب مفهوم وموند، د شاهد شرعي او فقهي معنا بېله ده، اولغوي معنا ئې بله ده، خود پارسي د شاعرانو شاهد بل څوک دى. حافظ وايي:

در کار گلاب و گل حکم ازلی این بود
کان شاهد بازاری وین پرده نشین باشد

دپارسي دهقان کلمه د مغولو تـر عصـره هـم پـر آريـايي نجيـب زادګانو او د مځکو او کلو پر مشرانو اطلاقېده، د هرځای مشـر تـه ئـې دهقان وايه (دهګـان) .عـرب چـي ايـران تـه راغلـل د ايرانيـانو ملـوك طوايف ئې ( دهاقين) وبلل، ځکه چي د مځکـو خاونـدان دوي وه، نـو وروسته دا کلمه پر مطلق زارع او کښتګر هـم اطـلاق سـوه، فردوسـي چي هر ځای دهقان راوړي مقصد ئې لومړی قديمه معنا ده، مثلاً :

زګفتـــــــار دهقان بياراستم
بدين خويشتن را نشان خواستم

مګر اوس دا کلمه زموږ په پاړسو کښي په دوهمه معنـا معروفـه ده، او په پښتو کښي ددې کلمې تطور بل رنـګ لـري، ځکـه چـي پارسـي ويونکي خلك اکثر زارع وه، او هم دهقانان ددوي مشـران وه، او دوی به پارسي ويله، نو په پښتو کښي دا کلمه مفغنه سوه، هم صورتاً هم معناً.

پښتنو د پارسـي دهګـان او دعربـی دهقـان ( دېګـان) کـړ ( جمـع : دېګانان) دوی اوس ديګان مطلق پارسي زبان بولي، او هر څـوك چـي پاړسو وايي دوي وايي : ديګان دی. د پښتنو دغـه مخصوصـه معنـا ګويـا ددې قديمي کلمې دريم تطور دی.

د آريايي ژبو ( نماز، لمونځ، لمانځل) هم له دغـه قسـمه دي، پخـوا نماز د زردشت په مذهب کښي يو مخصوص عمل ؤ، بيا نـو د اسـلام د عربي (صلات) پر ځاي استعمال سو، او په پارسي پخواني نثـر کښـي د احترام په معنا راغلی دی :

مثلاً : نماز ( عربي صلات پر ځای) فرخي وايي :

یاد آنشب کان شمه خوبان طـــــراز
بطرب داشت مرا تابه گه بانک نماز

**نماز د مطلق احترام او تکریم په معنا فردوسي وايي :**

زمین رابېوسید وبردش نماز
همیٔ بود پیشش زمـان دراز

**(شهنامه)**

**گردیزی لیکي : چون امیر رابدیدند همـه نمـاز بردنـد و خـدمت کردند ( زین الاخبار) د غزنوي دورې نویسنده گان اکثر نماز بـردن د احترام په معنا استعمالوي، بیهقي ډېر ځله داسي مثالونه لري.**

**په پښتو کښي هم لمانځل د لمانځه ( صلات) اداء کولـو پـه معنـی راغلی او هم مطلق احترام دی.**

**دوست محمد کاکړ وايي :**

شپې ئې تیری په لمانځو وي
په ژړا اوپه نــــــــــارو وي

**یادا چي وايي :**

یوه ورځ جهاد افضل
تر کلو کلو لمــانځل

**دلته د صلات معاني لـري، مگـر پـه لانـدي مثـالونو کښـي مطلـق احترام نیایش هم دی، خوشحال وايي :**

خدای هغه په دواړو کونو دي نمنځـــلي
چي په ورځ ئې عدل وداد په شپه نمنځونه

**په دې ډول (نماز ، لمونځ، لمنځل، نمونځ، نمنځل) له یوې ریښـې څخه نژدې کلمات دي، اودعربـی صـلات اومطلـق احتـرام پـه دواړو معناوو استعمال سویدي، او د لغوي تطور تر اثر لاندي راغلي دي.**

**(۲) : تطور داسي هم پېښېږي چي اصـلي کلمـه پـه هغـه خپل اصلي شکل له منځه ووزي، او له هغې ريښې څخه په بـل شـکل بله کلمه په بله معنا راووزي لکه :**

**( پارثوا) په قديمه زمانه کښي يو خراساني قوم وُ، دا کلمه پـه څـو زره کاله کښي سره وسولېده او په پای کښي د (پهلوان) کلمه لـه دغـي ريښې څخه پيدا سـوه، چـي پـه پاړسـو کښـي معنـا دلاور او شـجاع ده فردوسي وايي :**

يکي پهلوان بود، دهقان نژاد
دلير وبرزگ وخرد مند وراد

**په پښتو کښي دداسي تطور مثالونه ډېر دي، مثلاً ( پاړ) اصلاً ( ورم ـ پنديدن) وُ، پخپله په مجـرد ډول اوس دا کلمـه نـه اسـتعماليږي، خـو ريښې ئې په (پاړسوب) او (سرپاړي) کښي پاته دي چي پـه پارسـي ( کلـه چرگ) ورته وايي.**

**( ښکلا) پخوا (جمال) وُ، تر متوسطينو پوري لا دغه کلمـه ژونـدۍ وه، مگر وروسته له استعماله ولوېده، او هرځای ئې ( ښکلی ) د ( جميل او زېبا) په مفهوم تر اوسه پاته دی.**

**(۳) : د تطور په ميدان کښي يوه کلمه بالکل مري، او هيڅ اثر ئې په ژبه کښي نه پاتيږي.**

**مثلاً : په پخواني پاړسو کښي ( پاژ) يوه مخصوصه مذهبي زمزمه وه، او (برسم) هم د نـرى لرگـي دسـته وه، چـي دغـه دواړه پـه زردشـتي مذهب کښي استعمالېده، لکه :**

پرستنـــــــده آتش زردهشت
همی رفت با پاژ و برسم بمشت

**اوس دغه دواړي کلمې مړې دي، د پښتو (ړنځ) يعني خلقت (اتل) يعني پهلوان ( من) يعني (اراده) مخور ( سرخروئي) پلن ( پيـاده) او نـور ډيـر کلمـات چـي زر کالـه پخـوا ژونـدي وه، او د قـدماؤ پـه اشـعارو کښي راغلي دي، اوس مړه دي، او د ژبي تطـور دا کلمـات لـه منځـه ايستلي دي.**

**(۴) : يوه کلمه خپله زړه معنا هم ساتي او دمحيط له تطـور سره سم يوه بله نوې معنا هم مومي، ددې مثال په پارسي کښي (شـوخ) دی چي په پخواني ادب کښې د (چرک) معنا درلوده، بيا نـو د گُسـتاخ په معنا وگرزېده، وروسته ئې د دلبر او نازک طبع معاني هم وموندل، د لومړی معنا مثال لکه خسروي چي وايي :**

اگر شوخ بر جامـــــه من بود
چه باشد دلم او طمع هست پاک

**د دوهمي معنا مثال ، حافظ وايي :**

شوخي نرگس نگر که پيش تو بشگفت
چشم دريده ادب نـــــــگاه ندارد

**د دريمي معنا مثال ، نظامي وايي :**

شوخي که به غمزه کمينه
سفتي نه يکي هزار سينه

**(۵) : يا په مستقيماً د خپل احتياج په سبب لـه نـورو ژبـو څخه کښې مې بعضي کلمات اخلي، او عيناً ئې په هغه معنا استعمالوي،**

چي په دې جمله کښي ټول عربی ديني او مدني اوعلمـي لغـات شـامل دي، چي پښتو او پارسي دواړو ځني اخيستي دي، مثلاً : زکوت، حج، قرآن، آخرت، مدنيت، شکل، معنی، اسم، فعل او نور ...

**(۶) : بلی ژبي** خځه بعضي لغات را اخلـي، او هغـه پـه ځان کښي حل کوي، اوپه خپل رنـګ ئـې رنګـوي، چـي دعربـو پـه اصطلاح "معرب" ورته وايي، او که پارسي ګـډ سـوي وي، مفـرس ئـې بولي، موږ هم ددې اصطلاح لپاره "مفغن" جوړ کړيدی.
مفغنات په پښتو ژبه کښي له هندي ژبو او پارسي او عربي او تورکي څخه ډېر دي، مثلاً دعربي قميص په لږ تغيير ( کميس) سـو، او دې تـه مفغن وايي.

## د تطور عوامل :

لکه چي تاسي ولوستل، په ژبه کښي تطور يو طبيعي کار دی، چـي د احتياج له سببه تر مختلفو عواملو لاندي پر ژبه راځـي، لکه د انسـانانو نور شيان چي تل تطور کوي، دغسي هم ژبي سره اوړي، او هره ژبه په تدريج ځان له نوي محيط سره سموي، او دانسانانو پـه احتياجـاتو سـره سم تغيير کوي، څکه چي د انسان احتياجات په هرځـاي کښـي يـو نـه دي، نو هرځای ژبه د هغه ځای له اړتياوُ سره سمېږي، او هـم لـه دغـه جهته د ژبو لهجې پيدا کيږي، مثلاً : آريايي ژبي پخوا سره يو وې، مګر اوس ډيري ژبي پکښي جوړي سوي او اشکال ئې سره مختلف دي.

که یو سړی یوه هندي ژبه واوري، او بیا پښتو او پارسي او انګلیسي واوري، کورټ دا ګمان نه کوي، چي دغسي مختلفي ژبي به له یوې ریښې څخه راوتلي وي، مګر فقه اللغه دا ثابتوي چي ددغو ژبو اصل یو دی، ژبي ته چي کوم تطور ورپېښېږي تر دوو عواملو لاندي وي :

## (ا) طبيعي عوامل :

د تطور طبيعي عوامل دغه دي : د زمانې تېرېدل، جغرافیائي محیط، د انسان مزاجي او روحي مشخصات.

دا درې عوامل په دې ډول یوله بله سره تړلي دي، چي د انسان مزاجي او روحي احوال دده جغرافیائي چاپېره پیدا کیږي، یو انسان چي مثلاً : په توده هوا کښي ژوند کوي، دده اخلاق او عادات دهغه محیط سره برابر وي، او د ساړه محیط خلک بیا بل راز ژوندون، نور مزاجه او روحیات لري. نو لکه جغرافی محیط چي دانسان پر مزاجي او روحي احوال اثر کاندي دغسي هم د زمانې مرور پر جغرافی محیط باندي اغېزې کوي. مثلاً : یو وخت ښایي یو جغرافي محیط یو راز آب وهوا ولري، او ډېر باراني او لندبل ځای وي، مګر ډېره زمانه وروسته ښایي چي هغه ځای وچ سي، او د برودت او حرارت احوال ئې بالکل الیش سي. نو هغه تعابیر چي په یوه لانده، ساړه ځای کښي د ژبي لپاره لازم وه، په وچ، تاوده ځای کښي ضرورت نلري، له دې جهته باید هغه تعابیر او لغات او کلمات ورک سي، او پر ځای ئې د اوږدې زمانې په تېرېدو نور ضروري او حیاتي تعابیر او کلمات ودرېږي، مثلاً : په پښتو کښي د ډبري اقسام خورا ډېر نومونه لري او د پښتنو د حغرافی محیط اثر دی، ځکه چي دوي په غرو کښي ژوند کاوه او هلته ډيري ډبري

وې. لانبې، پرښه، کرکنډه، ډبره، سخر، کاڼي، تيږه، شګه، ګوسه. غرګى، شاخه، او نور د ډبرو د اقسامو نومونه سته، مګر د ( رېګ) لپاره دوي يو نوم درلود، چي اوس مهجور اومتروک دي، او بنايي چي دا نوم هغه وخت ډېر معروف وؤ، چي پښتنو د کندهار جنوب ته تر سيستانه په ريګستان کښي ژوندون کاوه، دا نوم (سال) دى.

## (۲): غير طبيعي عواملي :

چي سياسي، ديني، فني، علمي علل دي، او دا ټول هم په ژبو کښي ځيني تطورات پيدا کوي، له ژبي څخه ځيني لغات باسي او ځيني په ننباسي.

په دغو عواملو کښي هم زمانه ډېر اثر لري، سياسي انقلابونه، او مذهبي تحولات، او د علومو او فنونو تکامل په اوږدو زمانو کښي پېښيږي.

## د تطور اشکال :

لکه چي ومو ويل : ژبي تر طبيعي او غير طبيعي اسبابو لاندي تطور کاندي، او نوي کلمات او لغات او معاني پکښي مونډل کيږي، د لغوي تطور ځيني عُمده او مهمي لياري دغه دي :

۱. د کلماتو د شکل اوښتنه.
۲. د کلماتو د ګردي معنا اوښتنه.
۳. د کلماتو د يو څه معنا اوښتنه
۴ د يوه لغت اوښتل په بل لغت

۵. د يوه لغت بالکل ورکېدل.

۶. له نورو ژبو څخه ځيني کلمات په بله ژبه ننوتل.

لاندي به ددغو شپږو ليارو شرح واورئ :

## (ا): [illegible] څنګه خپل شکل اړوي؟

د پخوانيو ژبو کلمات او الفاظ درانه او په ويلوکښي ګران او بېړون وه، د افعالو او نومونو حرف ئې هم مشکل وُ، نو انسان چي تـل راحـت غواړي، د ګرانو او درنو کلماتو له ويلـو ژبـه خلاصـوي، او هغـه آسـانه کوي، ثقل په سپکه تبديلوي، او د ژبي ځني قيود له منځه باسي.

له پخوانۍ پارسي او اوستا څخه اوسنۍ پارسي پيـدا سـوېده، پخـوا ئې پاچا (خشائيه) باله، له دې درانه نامه څخه (شاه) سپکه کلمه وزېږېده، او ارتخشتر نوم په (اردشير) سپک نامه بدل سو د اوستا نومونو علاوه پـر تذکير، تانيث، افراد، تثنيه ، جمع نور آتـه حالتـه درلـوده، چـي دغـه حالات ئې په پارسي کښـي ورک سـول، او ژبـه سـاده او آسـانه سـوه، دغسي تحولات په ژبو کښي په لاندي ډولو پيدا کيږي:

## الف : [illegible]ماتو تراش خوړل :

چي ځني اصوات له منځه ورکيږي، يعني نه ويل کيږئ، ځکه چي د هغو اصواتو ويل ګران وي، مثلاً : په انګليسي کښې Night نايټ شپه ده، چي دمنځ Gh دوه حرفه ئې نه ويل کيـږي او تراشـل سـويدي، د پارسي (و) معدوله هم دغسي دی، لکه په (خـوان) کښـي چـي نـه ويـل کيږي، په پښتو کښي همدغسي کلمات ډير دي، چي سـپک سـويدي، لکه : هډ ډيره چي (هديره) وايو، يا لاس توني چي (لستوڼی) بولـو، يـو وخت (هسک) آسمان وُ، بيا يو (من) ورسره زيـات سـو، هسـکمن او دا

کلمه سپکه سوه، ( آسمان) ځيني جوړ سو، سورا په پهلوي کښي (اسپ وار يا اسپ بار) ؤ، او په پښتو کښي (اسپ وری) ؤ، چي وروسته لـه دې نه (سپور يا سور) جوړ سو، د پهلوي ژبي اکثـر لغـات پـه پارسـي کښـي سپک سول، مثلاً : پرستوک = پرستو سو، داناک = دانا سـو، سـمب = سم او دمب = دم سو، اپاک = با ، او اپر = بر ، او اشناک آشنا سو.

## ب [illegible]يو له منځه وتل :

د ځينـو حروفـو مخـارج د زمـانې پـه مـرور اوړي، او دا هـم د جغرافي عواملو اثر وي، مثلاً : د آب وهوا اوښتـل، د انسان مـزاج او عضلات او اعضاء سره اوړي، له دې جهته ځيني اقوام بعضـي اصـوات اداء کولای سي، او ځيني ئې نسي اداء کولای.

کله يو قوم په يوه راز آب وهوا کښي ژوند کوي، چي له هغه ځايه ولاړ سي، نو نـوی جغرافـی محـيط پـر دوی اثـر وکـړی، او د ځينـو حروفو اصوات بل راز سي، مثلاً : انګليسان چي له انګلسـتانه امريکـا تـه ولاړل، ددوي په ژبه کښـي يـو تحـول پيـدا سـو، او د ځينـو حروفـو مخارج بل راز سول، چي د انګلستان له لهجې څخه ډېر فرق لري، په اوستا کښي ځيني مخارج وه چي اوس په پارسي کښي نسته، لکـه (ڼ) او مشدد (ش) چي دا دواړه اوس په پښتـو کښـي ( ڼ ـ ښ) پـه اصـواتو موجود دی، او د پښتو ځينو حروفو مخارج هـم پـه مختلفـو محيطـو کښي اوښتي دي، لکه ( ږ، ښ) چي د کسې غره پر هـاخوا ( ژ، ش) تـه نژدې اوازونه لري، اوبيا درنيږي، څو چي (ګ ، خ) ته په خيبر کښـي را رسيږي، او دا هم خاص د جغرافی محيط اثر دی.

کله يو قوم له بل قوم سره ګډ سي، اود ګډون په اثر ځيني مخارج له ژبي ووزي، يا نوي پکښي پيدا سي، مثلاً: د ( ق، ح) مخـارج چـي د

عربو د آميزش په سبب په آريايي اقوامو کښي پيدا سول، اصلاً ددوي په ژبو کښي نه وه، پښتانه په ننگرهار کښي (ق) په خورا عربي ډول اداء کوي، پرقبېدل وايي . تر دې حده چي زموږ يو ننگرهاري دوست دې ته ټينګک وٌ، چي په پښتو کښي اصلاً (ق) سته، حال داچي يو کندهاري امي سړی مړ کې (ق) نه سي ويلای.

**2 :** [illegible] کلماتو حروف په داسي نورو حروفو اوړي، چي مخارج ئې سره نژدې وي، ځيني حروف تلفظ او مخرج کښي سره ورته دي او هم په دغه سبب يو له بله سره اوړي، کله دا تبديل د خط په اوښتلو کښي سره پيښ سي، مثلاً پخوا په پاړسو کښي يو راز د (ت) خاص آواز موجود وٌ. چي د (دال) او (ت) تر منځ يو ږغ وٌ، دا مخرج وروسته ورک سو، او هغه خاص شکل ئې هم په عربي رسم الخط کښي له منځه ولاړ او د معمولي (ت) ږغ ئې اوس پاته دي چي ځيني خلک ئې د پخواني صوت په سبب (ط) نوشته کوي، حال دا چي آواز ئې تشه (ت) ده، لکه : طهران، طپيدن، طشت او نور... ددې قديم آواز مخرج اوس په پښتو کښي (ټ) ده چي د هغه قديم ږغ نمايندگي کوي، دغسي هم پخوا مشد د (ش) موجود وٌ، چي اوس ئې پارسو نه لري، او تش (ش) وايي، مگر پښتو هغه ږغ د (ښ) په شکل لري، بل مثال ئې (ث) ده، چي دا ږغ پخوا هم موجود وٌ، لکه : کيومرث، تهمورث، ارثنگ، او وروسته له پارسو څخه دا ږغ ورک سو، مگر پښتو ئې اوس هم د (څ) په شکل لري، د مخارجو دغه اوښتنه او د ځينو آوازونو ورکېدل په لاندي سببو سره کيږي:

### (۱) : [illegible]انس او سره نږدېوالی :

لکـه (ب،پ) او (ق، ک، ګ) او (ج، ژ،ز) چـي سـره نـږدې دي، نوداسي متجانس حروف اکثر سره اوړي. مثلاً : په پاړسو کښـي ( کـج) پخوا (کوز، کوژ) و، او په پښتو کښي هم تراوسه (کوږ) ورته وايـو، نـو (ج، ژ، ز) له (ږ) سره د مخرج تجانس لري. فردوسي وايي

سپهريکه پشت مرا کرد کـــــــــــوز
نه شد پست وگردان بجاليست نوز (۱)

دغسي هم مثلاً پارسی جنګل په پښتـو کښـي (زنګـل، ځنګـل) دي چي (ځ) او (ز) او (ج) سره متجانس دي، وفس على هذا ...

### (۲) : [illegible]ګرانوالی :

چي د ژبي په ځينو لهجو کښي د بعضو مخارجو تلفظ ګران وو، نـو هغه نږدې مخرج چي آسان و، د ګران پر ځای ودرېد، مـثلاً : هغـه (ر) چي د مخه ئې الف وي، په (ل) اوړي، لکه : دېوار، دېوال يا مـثلاً : پـه پښتو کښـي ( ږ) پـه (ګ ) او (ښ) پـه (خ) تبـديل سـو، مګـر دا تبـديل منطقوي دی او ځکه چي د (ږ ، ښ) اصلي آوازونه ګـران وه نـو آسـان کړل سوه، لکه : کوږ : کوګ _ اوښ : اوخ.

### (۳) : [illegible]ژبو تاثير :

کله چي د بلي ژبي خلك پر يوه ملت غالب سي، نو ددوي د نـورو احتماعي شـيانو سـره ژبـه هـم پـر مغلـوب اثـر کـوي، د غـالبي ژبـي

اصطلاحات، لغات، مخارج دې مغلوبې ژبې تـه راځـي ، ددې خبـري ښکاره مثال عربۍ ژبه ده، چي پر پارس، خراسان، هند عرب راغلـل او خپل مخصوص تمدن او ثقافت ئې هم دلته خپور کی، نو د عربی ژبـي ډېر لغات ، اصطلاحات په پارسي، پښتو، هندي ژبو ننوتل.

عربو ډېر عجمي يعني غير عربی کلمات پـه خپلـه ژبـه ننيسـتل، او عجمي مخارج ئې عربی کړل، دې قاعدې ته (تعريب) وايـي، پارسـي (پ) ئې په (ف) واړوله، لکه : پارس = فارس او د کلمـاتو آخـره (هـ) ئـې (ق) کړه لکه : دانه = دانق، جمع : دوانيق او نور داسي په سوو مثالونه.

کله کله به په دغه تقليـد کښـي د ژبـي خپـل کلمـات او مخـارج هـم واوښتل مثلاً " د پارسي (پام) (فام) سو ترنګ ئې تـرنج سـو، انګـين ئـې سکنجبين سو.

په پښتو کښي هم دغسي کلمات او مخارج سته لکه عربي قمـيص = کميس سو، او عربي ډېر کلمات دغسي د مخارجو په اړولو پښتو سـوه، او ځيني پښتو خپل کلمات هم په عربي مخارجو تلفظ سوه، لکـه چـي مثال ئې دمخه په (زلق، پړق) کښي وويل سو، چي د (ق) مخرج زموږ خپل اساسي پښتو مخرج نه دی.

## د : غږونو سره اوښتل :

ژبي ځيني اساسي اصوات لري، چي حروف صحيح Consonants ئې بولي او ځيني حروف لري چي صوتي او علـی Vowels دي اوسـتا (۱۳) صوتي حروف درلوده او سنسکريټ هم دغسي وه، مګر وروسـته دا صوتي حروف کم سوه، اوس انګليسي (۶) حروف علت لري، او عربـي درې، او پارسي (۸) لکه (آ ـ او ـ ای ـ ای د الف پـه زور او دالـف پـه زور . درې حرکته). د ايـران پـه پارسـي ژبـه کښـي اوس د مجهـول

اومعروف ( و ـ ی) فرق نسته، مګر په افغاني پارسي کښي لا تر اوسه دا فرق موجود دی، نو د پخوانی پارسي مجهول ( و ـ ی) اصوات له منځه وتلي دي. کله کله دغه د علت اصوات یو له بله هم سره اوړي، او امالي صوت مومو، مثلاً : ګرمسار په ګرمسېر واوښت، شاه ، شه سو، اندوه ، انده سو.

په اشعارو کښي داسي تبدیلات ډېر وي، مثلاً دقیقي ( میرد) په (مرد) راوړي :

درختي ګشن بیخ وپارش خـــرد
کسي کز چنان برخورد ، کی مرد

عبدالقادر خان خټک اعتماد ( اعتمید) کړی دی :
دا ځل ډېر ورځني ښاد عبدالقادر سو
چي به بیا په خوبرویانو اعتمید کا (۲)

غیر له دې ځیني نور صوتي تبدیلات هم په پښتو او پارسي کښي سته، مثلاً : ( آ) کله په زور او کله په ( او) اړوي، لکه خانه چي په خراساني لهجه کښي ( خنه) او په رازي او پښتو کښي (خونه) اوبه لري، او وزیري لهجه کښي ( خینه) ده.

د سپین غره په جنوبي لمنو کښي تر ګومله دغسي لهجوي امالې ډېري دي، مثلاً (و) په (ی) (الف) په (و) سره اوړي، مونږ وایو ( لار ) دوي وایي (لور) مونږ وایو (اور) دوي وایي : (اېر) په دې ډول ډېري امالې لري، چي سړی دقت ونه کړي ژر نه پوهیږي.

د ژبي فونولوجي یعني ږغپوهنه، ددغه تبدیلاتو لپاره ډېر کومک کوي. او د کلماتو ریښې په معلومیږي.

## هـ : قلب :

يعني د حروف د محل تغيير له يوه ځايه بل ځای ته، چې په دغه ډول هم کلمات اوړي، او لغوي تطور واقع کيږي، مثلاً په پهلوي کښي بخر په دری ژبه کښي (برخ) سو، چي اوس ئې ( بهر ) وايي، دا کلمه په پښتو کښي هم برخه او بخره ويله کيږي، په دري ژبه کښي يو بيت دی :

تو ای دانشی چند نالی زچرخ
که ايزد بدی دادت از چرخ برخ

(اسدي)

يا مثلاً په اوستا کښي ( وفر ) د پارسي (برف) وو، چې د پښتو (واوره) هم له دغو ريښو څخه د قلب په اصولو جوړه سويده، د پهلوی (ژفر) په پارسي کښي (ژرف) سو، چي د پښتو (ژور) دی، دغسي هم د پهلوی گفت د پارسي کتف دی، چي قلب پکښي واقع سو. د پښتو مقلوبات ډير دي، او د لهجو اختلاف هم په دغه قلب کښی دی، لکه : زمکه = مځکه ، برخه = بخره ، اورته = اروته ، ږغ = غږ ، پښه = خپه او نور.

## (۲): لغات څنگه خپله معنا اړوي؟

د تطور دوهم شکل داسي دی، چي يو لغت خپله معنی واړوي، او دا د کلماتو د معنوي تطور يو ډول دی او دغه تطور په لاندي ډولو سره واقع کيږي :

**الف :** کله ليدل کيږي چي پخوا يوه لغت خاصه معنی درلـوده، مگر وروسته ئې د بعضو علتو په سبب هغـه معنـا اوړي، او يـوه نـوې معني مومي، مثلاً : په اوستا کښي (يزته) هغه فرشته وه چي د خير عامله گڼله کېده، خو اوس ئې په اخر پوري يو (ان) نښلولی دی او (يزدان) د خدای تعالی نوم سويدی. دغسي هم (دروغ) پخوا د يوه دېب نـوم وُ، چي اوس د رښتيا ضد يو لغت دی.

ددغه ډول تطور مثال په پښتو کښي (مرسته) ده چي پخوا د انتظار، آرزو او طلب په مفهومو مستعمله کلمه وه، خوشحال خان وايي:

يار زما څخه په کور دننه ناست وُ
زه بې روحه گرزېدم دده په مرسته

بل ځای وايي :

اوس مي بيا مونده په کور کي
چي دايم ئې وم په مـــــرسته

مگر اوس دا کلمه د کومک او امداد او معاونت په معانيو اخلـو، او مشهوره سوېده.

**ب :** کله کله د يوه لغت پخوانۍ معنا هم ژوندۍ وي، خـو نـوې معنی هم مومي، چي دغه ډول تحـول د مجـاز پـه ډول وي، او ورو ورو دغه مجازي معاني د حقيقي مفـاهمو پـر ځـای دريـږي، او تـول عقلي، عرقي، شرعي، ادبي مجازونه دغسـي دي، مـثلاً : ملـت پخـوا شريعت وُ، په قران شريف کښي ملت ابراهيم حنيفا ستايل سويدی، مگر اوس موږ (ملت) عوام خلک پولو، چي په پښتو کښي وگړي دي.

جنگ هفتادُ و دو ملت همه را عذر بنه
چون نديدند حقيقت ره افســـانه زدند

(حافظ)

دغسي هم (لعبت) عربي کلمه ده، چي ( لعب = بازي) مشتقه ده، مگر وروسته ئې د (بت) معنی پيدا کړه، او مجازاً زيبا او ښکلی او دلفريبه سوه :

زين لعبتان خاک نگاري گزيده ام
کز جلوه راه حوری و باغ ارم زند

دغسي تحولات په پښتو کښي ډېر دي مثلاً د ډول ږغ (ډم ـ ډم) اسم صوت دی له دې څخه (ډمامه) جوړه سوه، او ډم د هغه چا نوم سو، چي ډول وهي، په پښتو کښي دغه پېشه سپکه وه، نو په هره قبيله کښي خاص خلق ورته معين وه، او دوي ئې (ډمان) بلل، دوي به ډول واهه، اهل طرب وه، رقص به ئې کاوه ، وروسته څني نور کارونه هم دوي ته وسپارل سوه، لکه : سرخريل، ډوډۍ پخول، نو مجازاً د ډم کلمه پر نائي هم اطلاق سوه، او د کلي اشپز ئې هم ډم وباله، وروسته دې خلکو خپل اصلي کار چي ډول وهل او طرب ؤ پرېښو، په فرعي کار مشغول سول، مگر مجازاً هغه ددوی قديم نوم تحول وکړ، نو (ډم) په حقيقي معني ( ډول وهونکی) او په مجازي معنی ( دلاک ـ نايي ) سو.

ددغو خلکو ښځو به په کورو کښي د ښځو سرونه وراودل او وروسته وروسته دوي دوني مهارت وموند چي د ښځو آرايش هم ددوي کار سو، نو دوي مشاطې سوې، او (ډمه) د (ډم) موئنثه کلمه په پښتو کښي مجازاً د مشاطې معنی وموندله :

ډمي ! ته چي په کوڅيو گوتي مروړې !
کوم عاقل به له افعي سره بازۍ کا ؟

**ج : کله يو لغت د پخوانيو معناګانو څخه يو برخه اړوي، يعني د کلمې له دوو درو معناوو څخه فقط يوه معنی پاتيږي، او نوري ئې ورکيږي. مثلاً : په پارسي کښي پخوا ګناه د ضرر مفهوم هم درلود په پهلوی کښي ګناه (وناس) وه چي وناسيدن ئې مصدر وُ، خوتر اسلام وروسته دا کلمه فقط د (ضدثواب) په مفهوم استعمال سوه.**

**فرخي وايي :**

گنه يکـــتن ويراني يـــکشهر بـــود

اين من از خواجه شيند ستم در خدمت شاه

**دلته هم د ضرر په معني راوړه سوې ده، بل مثال ئې آفرين دی، چي په پخوانۍ پارسي کښې علاوه پر تحسين د ستايني معنا هم درلوده، مګر اوس ئې هغه معنی ضعيفه سوېده :**

نخست آفرين کرد بر کردگار

کز او ديد نيک وبد روزگار

**ددې ډول تطور مثال په پښتو کښي (وياړ ـ وياړونه) ده چي پخوا د حماست په مورد کښي هم استعمالېده او حماسيه قصيده ئې (وياړنه) بلله، مګر اوس ئې دغه معنا مړه ده، فقط وياړ خورا نادر د افتخار په مورد کښي ځيني قدامت پسندان استعمالوي، مګر له عمومي محاورې څخه وتلې کلمه ده (د وياړني ، وياړ قديم استعمال په پټه خزانه کښي وګورئ !)**

## د : د لغاتو مرګ :

**لغات هم لکه نور ژوندي شيان، مرګ لري، او کله کله چي بالکل احتياج نه وي ورته نو هغه کلمات مري، او له ژبي څخه وزي، اکثر ديني او مذهبي او سياسي لغات له دغي ډلي څخه دي، چي کوم**

دين ورک سي، او پرځای ئې نوی دين ودريږي، نو د زاړه دين مصطلحات منسوخ سي، مثلاً د زردشتي دين په سوو اصطلاحات چې پخوا په پارسي کښي وه، د اسلام په راتګ مړه سول. دغسي هم د مغولي ژبو ځني اصطلاحات چي ددوي له راتګه سره يوځاي په ايشيا ئي ژبو ننوتل هغه وخت چي مغول ولاړه نو هغه لغات او کلمات هم ورسره مړه سول، لکه نويان ( شاهزاده) ايناق (مصاحب) امراق ( معشوقه) او نور نور ...

د پښتو ډېر لغات چي پخوا مستعمل او ژوندي وه او په ادبياتو کښي هم مستعمل وه اوس مړه دي، تاسي يو وار پټه خزانه د رواخلئ هلته په قديمو منظوماتو کښي داسي کلمات استعمال سويدي چي اوس ئې مونږ نه وايو، او نه ئې په معنی اومفهوم پوهيږو. (۳)

# لمن ليكونه

(۱) نوز د هنوز مخفف دی.

(۲) ددې غزلي قافيه (بيد _ نويد) ده.

(۳) کابل مجله، ۱۳۲۹ کال، پر له پسې ۲۷۹ او ۲۸۱ گڼې،